مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۳٦** (از ١٦ الی ۲۳ جدی ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**نگرشی به تطبیق و نقض قانون اساسی افغانستان ........ ۳**

قانون اساسی افغانستان ........ ۴

نقض قانون اساسی ........ ۴

مهم‌ترین عوامل نقض قانون اساسی ........ ٦

نتیجه‌گیری ........ ٦

**د امریکا-پاکستان ترینګلې اړیکې او پر افغانستان یې اغېزې ........ ۷**

اسلام‌آباد-واشنګټن؛ له جیوپولیتیک څخه اغېزمنې اړیکې ........ ۸

د پاکستان په تړاو د ټرمپ تګلاره ........ ۸

پاکستان او امریکا؛ یو بل ته اړتیا لرونکي ........ ۹

پر افغانستان د امریکا-پاکستان د ترینګلو اړیکو اغېزې ........ ۱۰

**راتلونکی کنفرانس: د افغانستان او چین دوه‌اړخیزې اړیکې ........ ۱۱**

## مقدمه

په تېرو ۱۴ کلونو کې د افغانستان له اساسي قانون څخه د سرغړونو په تړاو تل بحثونه موجود وو او په تېره بیا د اساسي قانون د اوونۍ نمانځلو پر مهال په دې تړاو ځینې څېړنیز راپورونه هم خپرېږي.

د افغانستان اساسي قانون چې ۱۴ کاله وړاندې، کله چې د نړیوالې ټولنې په مرسته په افغانستان کې د طالبانو رژیم ړنګ او پر ځای یې د نوي نظام بنسټ کېښودل شو، یو مهم ګام هم د اساسي قانون جوړول او تصویبول و؛ خو دغه قانون که څه هم د افغان حکومت لهخوا سره کرښه بلل کېږي؛ مګر په پراخه کچه خپله د حکومت لهخوا نقض شوی دی.

دا چې د افغانستان اساسي قانون په تېره نژدې یوهنیمه لسیزه کې ولې په بشپړ ډول نه دی پلی شوی، په کومو مواردو کې نقض شوی او د دغه وضعیت حلاره څه ده، هغه موضوعات دي چې په اړه یې د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل په لومړۍ برخه کې شننه لولئ.

دویمه برخه مو بیا د امریکا-پاکستان خرابېدونکو اړیکو ته ځانګړې کړې ده. که څه هم د واشنګټن او اسلاماباد اړیکو د پاکستان له جوړېدو راهیسې لوړې او ژورې لرلې دي؛ خو په تېره یوهنیمه لسیزه کې تر ډېره ښې وې او پاکستان په سیمه کې د امریکا ملګری هېواد بلل کېده. له تېر کال راهیسې، کله چې په امریکا کې ډونالډ ټرمپ واک ته ورسېد، دا اړیکې د خرابېدو په لور ولاړې او د ۲۰۱۸ کال له پیل راهیسې د بل هر وخت په پرتله ترینګلې شوې دي. دا چې د امریکا او پاکستان خرابې اړیکې په کوم لوري روانې دي او د دغو اړیکو د خرابوالي اغېزې به پر افغانستان څه وي؟ هغه پوښتنې دي، چې د تحلیل په دویمه برخه کې ځواب شوې دي.

د تحلیل په وروستۍ برخه کې هم د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز لهخوا په راتلونکې اوونۍ کې د افغانستان او چین ترمنځ پر دوهاړخیزو اړیکو د څېړنیز کنفرانس د خبراوي خبر لولئ.

# نگرشی به تطبیق و نقض قانون اساسی افغانستان




چهارده سال قبل از امروز قانون اساسی کنونی کشور از سوی لویه‌جرگهٔ تصویب قانون اساسی، به تصویب رسید و توسط حامد کرزی رئیس دولت انتقالی افغانستان، توشیح گردید.

قانون اساسی، یکی از دست‌آوردهای مهم نظام کنونی پنداشته می‌شود و عالی‌ترین سند حقوقی در کشور است، ولی در طول چهارده سال گذشته همواره بحث‌هایی در مورد نقض و عدم تطبیق آن وجود داشته است.

مقام‌های بلندرتبهٔ حکومت افغانستان نیز می‌پذیرند که قانون اساسی کشور به گونهٔ گسترده نقض شده است. سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری افغانستان به مناسبت تجلیل از هفتهٔ قانون اساسی در پیامی گفته است که نقض قانون اساسی در افغانستان همگانی شده است.

یافته‌های یک تحقیق تازه نیز نشان می‌دهد که در چهارده سال گذشته از میان ۱٦۲ مادهٔ قانون اساسی، ۹۴ ماده آن نقض شده است.

اینکه قانون اساسی کشور در طول ۱۴ سال گذشته تا چه حدی تطبیق شده است؟ و مهم‌ترین عوامل نقض این قانون چیست؟ پرسش‌هایی اند که در این تحلیل مورد بررسی قرار گرفته است.

## قانون اساسی افغانستان

افغانستان، یکی از کشورهایی است که قانون اساسی متعددی در آن وضع و تصویب گردیده است. قانون اساسی کنونی، که در واقع محصول تعهد سیاستمداران افغان در موافقتنامهٔ بُن می‌باشد، هشتمین قانون اساسی کشور است.

اولین قانون اساسی افغانستان، تحت عنوان نظام‌نامهٔ اساسی دولت افغانستان در سال ۱۳۰۱ هـ ش در دوران سلطنت شاه امان الله خان، تدوین و در سال ۱۳۰۳ در ۷۳ ماده توسط یک لویه جرگه در کابل به تصویب رسید.

دومین قانون اساسی در سال ۱۳۰۹ هـ ش در زمان محمد نادر خان، سومین قانون اساسی در سال ۱۳۴۳ در دوران سلطنت محمد ظاهر شاه، چهارمین آن در سال ۱۳۵۵ در زمان جمهوریت محمد داوود خان، پنجمین آن در سال ۱۳۵۹ توسط حزب دیموکراتیک خلق افغانستان تحت عنوان اصول اساسی جمهوری دیموکراتیک افغانستان، ششمین و هفتمین آن در سال ۱۳٦٦ و ۱۳٦۹ در زمان حکومت داکتر نجیب الله که دوم آن قانون اساسی تعدیل شدهٔ سه سال پیش از آن بود و قانون اساسی کنونی که در سال ۱۳۸۲ در دورهٔ انتقالی حامد کرزی تدوین و به تصویب رسیده است.

قانون اساسی کنونی (قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان) پس از سقوط رژیم طالبان و روی‌کار آمدن نظام جدید در کشور، از ۲۲ قوس الی ۱۴ جدی سال ۱۳۸۲هـ ش پس از نهایی شدن از سوی کمیسیون تسوید، توسط لویه جرگه در ۱۲ فصل و ۱٦۲ ماده به تصویب رسید و در ٦ دلو همان سال از سوی حامد کرزی رئیس دولت انتقالی افغانستان توشیح گردید.

## نقض قانون اساسی

قانون اساسی افغانستان که به عنوان میثاق ملی مردم افغانستان، تمام امور کشور را تنظیم و به نوعی زمینهٔ نظارت و حاکمیت مردم بر امور دولت را تنظیم می‌نماید، در ۱۴ سال گذشته به گونهٔ گسترده نقض شده است.

در کل، از نهادهای دولتی و خصوصی گرفته تا افراد عادی کشور در نقض قانون اساسی دست دارند. چنانچه معاون دوم رئیس جمهور هفتهٔ گذشته (۱٦ جدی ۱۳۹٦ هـ ش) به عنوان یکی از مقام‌های بلندرتبهٔ دولت، در پیامی از نقض همگانی قانون اساسی سخن زد و نبود ظرفیت کافی برای تطبیق قانون را نیز یکی از عوامل آن خواند.

در تازه‌ترین گزارش تحقیقی مشترک اتحادیهٔ قانون‌دانان افغانستان و آژانس خبری پژواک که به تاریخ ۱۸ جدی ۱۳۹٦ هـ ش نشر گردید، گفته شده است که در ۱۴ سال گذشته ۹۴ مادهٔ قانون اساسی در افغانستان نقض شده است. بنا بر این تحقیق، بیشتر از نصف مواد این قانون (۵۸ درصد) در این مدت نقض شده و تنها میان ۳۸ مادهٔ فصل دوم قانون اساسی که در بارهٔ حقوق اتباع کشور است، ۳۲ مادهٔ آن نقض شده است. بربنیاد این تحقیق،رئیس جمهور و معاونین او نیز از جمله کسانی اند که در مورد صلاحیت‌های شان ۵ مادهٔ قانون اساسی را نقض کرده‌اند.

علاوه براین، در سال‌های گذشته نیز چندین گزارش تحقیقی در مورد نقض قانون اساسی کشور توسط حکومت و مردم، از سوی نهادهای غیردولتی به نشر رسیده و نشان می‌دهد که حکومت نه تنها در تطبیق این قانون ناکام بوده، بلکه خود حکومت نیز در نقض گستردهٔ قانون اساسی مقصر بوده است.

به عنوان مثال، در مادهٔ ۷۱ قانون اساسی افغانستان آمده است: «حکومت از وزراء تشکیل می‌گردد و تحت ریاست رئیس جمهور کار می‌کنند.» در حالیکه حکومت وحدت ملی با نقض قانون اساسی بنیان نهاده شد و در سطح بالا از نقض قانون اساسی حکایت می‌کند. با توجه به بگومگوهای اخیر در مورد تذکره‌های الکترونیکی نیز که به دلیل مخالفت با اطلاق کلمهٔ افغان به دارندهٔ این تذکره توزیع آن با مشکل روبه‌رو شده است، مادهٔ چهارم قانون اساسی صراحت دارد که «بر هر فردی از افراد ملت افغانستان، کلمهٔ "افغان" اطلاق می‌شود».

گرچند نقض بیش از نیمی ماده‌های قانون اساسی مبالغه‌آمیز به نظر می‌رسد، ولی مثال‌های زیادی از نقض قانون اساسی در زمان حکومت حامد کرزی و بعدا حکومت وحدت ملی وجود دارد که نقض برخی آن‌ها مشروعیت این نظام را بیش از پیش خدشه‌دار کرده است.

عدم رعایت زمان برگزاری انتخابات و برگزار نشدن انتخابات ولسی جرگه و شوراهای ولسوالی‌ها، تمدید دورهٔ کاری ولسی جرگه، ادامهٔ کار سرپرست‌ها در مقام‌های بلند حکومتی، ادامهٔ کار اعضای قوهٔ قضائیه بیش از مدت قانونی، محدود شدن ساحهٔ تطبیق قانون و عدم موجودیت ارگان‌های عدلی و قضایی در حدود نیمی از ولسوالی‌های افغانستان، تمدید دورهٔ کاری‌رئیس جمهور، سوء استفاده از صلاحیت‌های کاری، مشخص نشدن دارایی‌های مقام‌های حکومتی، مداخلهٔ اعضای شورای ملی در کارهای که صلاحیت ایشان نیست، برخورد نادرست با مجرمان و دها مورد دیگر را می‌توان به عنوان مثال‌های نقض مواد قانون اساسی از سوی دولت یاد کرد.

## مهم‌ترین عوامل نقض قانون اساسی

عوامل گوناگون در نقض قانون اساسی کشور نقش دارد که به چند مورد مهم آن در اینجا اشاره شده است:

**نخست**؛ در سطح بالا، اختلافات داخلی و در کل تضاد منافع گروه‌ها و جریان‌های سیاسی در کشور باعث نقض قانون اساسی کشور شده است.

**دوم**؛ موجودیت فساد اداری گسترده و افراد زورمند در بدنهٔ نظام، عامل دیگر نقض قانون اساسی به شمار می‌رود که به سطح وسیع از تطبیق قانون جلوگیری می‌کند.

**سوم**؛ وضعیت خراب امنیتی کشور و نبود ثبات امنیتی از عوامل مهم دیگری است که زمینهٔ گسترده برای نقض قانون اساسی را فراهم کرده است.

**چهارم**؛ ضعف ارادهٔ سیاسی، ضعف نظارت و نبود یک میکانیزم پاسخگو عامل دیگر نقض قانون اساسی به شمار می‌رود. کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی از ضعیف‌ترین ارگان‌هایی است که نتوانسته است نقشی موثری در این مورد ایفا نماید. در حالیکه رئیس جمهور به عنوان پاسدار قانون اساسی خود مرتکب نقض قانون اساسی می‌گردد و قوهٔ قضایه نیز به نقض موارد متعدد قانون اساسی متهم است.

**پنجم**؛ موارد نقض قانون از سوی مردم عام، بیشتر به عامل پایین بودن سطح آگاهی مردم در زمینهٔ قانون برمی‌گردد.

## نتیجه‌گیری

قانون اساسی کشور در حالی به طور گسترده از سوی دولت و مردم عام نقض شده که در طول یک‌ونیم دههٔ گذشته پذیرش آن به عنوان پیش‌شرط و خط سرخ در گفتگوهای صلح مطرح بوده و یکی از موانع موفقیت در گفتگوهای صلح پنداشته می‌شود.

فرهنگ حاکم قانون‌گریزی، بی‌ثباتی سیاسی و امنیتی در افغانستان باعث شده که قانون اساسی کشور به سطح بالا و پایین از سوی مردم و هر سه قوهٔ دولت افغانستان به شکل گسترده نقض گردد.

بنابراین، در حالیکه از مقامات دولتی گرفته تا افراد عادی کشور و از نهادهای خصوصی گرفته تا نهادهای دولتی در نقض قانون دست دارند، ولی هیچ واکنشی جدی در برابر آن دیده نمی‌شود؛ در حال حاضر نیاز جدی به بالا بردن سطح آگاهی مردم نسبت به قوانین و تقویت ارگان نظارت از تطبیق قانون اساسی دیده می‌شود.

# د امریکا-پاکستان ترینګلې اړیکې او پر افغانستان یې اغېزې



د ۲۰۱۸ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې راهیسې د امریکا او پاکستان په اړیکو کې یو نوی پړاو لیدل کېږي. په لومړي ځل د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په خپله ټویټرپاڼه د پاکستان په تړاو سخت دریځ ونیوه او نیوکې یې پرې وکړې. د ټرمپ له دغه ټویټ وروسته، د امریکا د ملي امنیت سلاکار جنرال مک ماسټر هم وویل، چې ټرمپ د پاکستان له چلند څخه خپه او نهیلی دی. دغه راز په ملګرو ملتونو کې د امریکا استازې هم پر پاکستان د دوه‌مخي سیاست تور لګولی دی.

په پاکستان کې د ټرمپ دغه ټویټ له توند غبرګون سره مخ شو. له یوې خوا نیولې تر سیاسیونو پورې ټولو د امریکا دغه نوې ستراتېژي وغندله. پاکستان نه یوازې دا چې په پاکستان کې د امریکا سفیر احضار کړ، بلکې د ټرمپ د ټویټ په اړه یې د کابینې او پوځ ګډه بېړنۍ غونډه هم راوبلله.

په بل اړخ کې په افغانستان کې پخوانیو او اوسنیو ټولو چارواکو د امریکا له دغه نوي دریځ څخه ملاتړ کړی او هیله یې ښودلې، چې امریکا باید عملي ګامونه پورته کړي.

دا چې د امریکا او پاکستان اړیکې له کومو پړاوونو تېرې شوې، په دوه‌اړخیزو اړیکو کې یې د نږدې‌والي او لرې‌والي کوم عمده لاملونه لرل او د واشنګټن-اسلام‌آباد وروستۍ اړیکې به پر افغانستان څه اغېزې وښندي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته مو ځواب کړې دي.

## اسلام‌آباد-واشنګټن؛ له جیوپولیټیک څخه اغېزمنې اړیکې

د اسلام‌آباد او واشنګټن د تېرو اوو لسیزو د دوه‌اړخیزو اړیکو تاریخ لوړې او ژورې لري. امریکا او پاکستان په دوو مرحلو کې یو بل ته ډېر نږدې شوي او هغه د سیمې جیوپولیټیک وو. لومړۍ مرحله د سړې جګړې پرمهال وه او په پیل کې امریکا او پاکستان د شورویانو او په سیمه کې د کمونستانو پرضد په ستراتېژیکه ملګرتیا کې ننوتل. د سیټو او سینټو ایتلافونه یې هم په همدې موخه رامنځته کړل.

خو د هند او پاکستان ترمنځ د ۱۹۶۵ او ۱۹۷۱ کلونو جګړو پر پاکستان اغېزې وښندلې او اسلام‌آباد له دغو ایتلافونو ووت. هغه مهال د امریکا او پاکستان ترمنځ اړیکې خړې پړې شوې. پاکستانیانو ادعا کوله، چې د هند او پاکستان د جګړو پرمهال یې له پاکستان څخه ملاتړ ونه کړ. خو کله چې پر افغانستان شورویانو یرغل راووړ؛ نو د واشنګټن او اسلام‌آباد ترمنځ دوه‌اړخیزې اړیکې بیا ورغېدلې او د شورویانو تر وتلو پورې یې دوام وکړ.

د نږدې دوه‌اړخیزو اړیکو دویمه مرحله هغه مهال پیل شوه، چې کله امریکا په ۲۰۰۱ کال کې پر افغانستان بریدونه پیل کړل. که څه هم په دغه پړاو کې دغو دوه‌اړخیزو اړیکو لوړې او ژورې ولیدې؛ خو دومره هم خرابې او ترېنګلې نه وې، لکه د ۲۰۱۸ کال په لومړیو دوو اوونیو کې.

## د پاکستان په تړاو د ټرمپ تګلاره

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له ولسمشریزو ټاکنو وړاندې هم څو ځله پر پاکستان توندې نیوکې کړې وې؛ خو د ټاکنو پرمهال دواړو مخکښو کاندیدانو، هېلري کلنټن او ډونالډ ټرمپ، تر ډېره د افغانستان او پاکستان په تړاو له څرګندونو ډډه وکړه.

د ټرمپ له واک ته رسېدو راهیسې دا دی یو کال بشپړېږي؛ خو په دې موده کې د امریکا-پاکستان اړیکې د بُش او اوباما د دورو په پرتله ترینګلې وې او دي. ډونالډ ټرمپ په دغه بهیر کې تر ډېره د توندلارو پر ضد د پاکستان پر رول او دریځ شکونه ښودلي او نیوکې یې پرې کړې دي. یوازې د حقاني شبکې له منګولو څخه د

یوي امریکایی مېرمنې او کاناډایي خاوند د آزادولو پرمهال یې د پاکستان د دریځ ستاینه وکړه او دغه راز داسې برېښېدله، چې شاید امریکا به له پاکستان سره خپلې پوځي او اقتصادي مرستې ونه ځنډوي.

د پورتني تخمین خلاف، د ۲۰۱۸ کال په لومړۍ ورځ د امریکا ولسمشر په خپله ټویټرپاڼه ولیکل: «امریکا په تېرو ۱۵ کلونو کې له پاکستان سره په احمقانه ډول تقریباً ۳۳ میلیارده ډالر مرسته کړې ده؛ خو هغوی له درواغو او غولونې پرته موږ ته هېڅ هم نه دي راکړي، او زمونږ پر مشرانو یې د ساده‌ګانو ګمان کړی دی. دوی هغو ترهګرو ته خوندي ځایونه ورکړي، چې موږ یې په افغانستان کې لټوو. له موږ سره یې په دې برخه کې کمه مرسته کړې ده او دا حالت نور دوام نه شي کولای». په دې توګه امریکا پر پاکستان خپلې نظامي مرستې ودرولې او اوس د پاکستان او امریکا اړیکې تم شوې دي.

## پاکستان او امریکا؛ یو بل ته اړتیا لرونکي

پاکستان او امریکا د سیمې او په تېره بیا افغانستان په کچه یو بل ته اړتیا لري. له ۲۰۰۱ کال راهیسې، امریکا له پاکستان سره تر ۳۳ میلیارده زیاتې مرستې کړې دي، چې ډېرې یې نظامي مرستې دي. پاکستان د امریکا د دغو نظامي او اقتصادي مرستو بدیل نشي موندلای. پاکستان که څه هم له چین سره ستراتېژیکه ملګرتیا لري؛ خو امریکا چې له پاکستان سره کوم ډول نظامي مرستې کوي او ټکنالوژیکې وسلې ورکوي، چین شاید داسې ونه شي کړای (په تېره بیا په نظامي برخه کې د چین او امریکا د ټکنالوژۍ ترمنځ پراخ واټن شته دی).

په بل اړخ کې امریکا هم، په افغانستان کې پاکستان ته اړتیا لري. که څه هم امریکا دا اندېښنه لري، چې پاکستان له تېرو ۱۵ کلونو راهیسې له افغان وسله‌والو مخالفینو ملاتړ کړی؛ خو ښایي دا هم درک کړي، چې اوس هم د امریکا د نظامي او خوراکي توکو لاره پر پاکستان ده. همدا د ترانزیټ خبره د واشنګټن او کابل لپاره ننګوونکې ده. دا چې واشنګټن به د پاکستان د لارې له بندېدو وروسته کومه لاره غوره کړي، د بحث وړ ده. امریکا له ایران سره هم ترینګلې اړیکې لري او د روسیې او بیا د منځنۍ اسیا له لارې هم ناممکنه برېښي؛ ځکه روسیې د ۲۰۰۸- ۲۰۱۲ کلونو پرمهال امریکا ته له وسلو پرته یوازې د نورو توکو اجازه ورکړې وه.

## پر افغانستان د امریکا-پاکستان د ترینګلو اړیکو اغېزې

که د واشنګټن او اسلام‌آباد ترینګلو اړیکو ته وګورو، نو د پاکستان ترڅنګ به ښايي په منفي او مثبتو اړخونو کې تر ټولو زیاتې اغېزې پر افغانستان وکړي:

**لومړی**؛ که څه هم په تېرو ۱۵ کلونو کې له افغان وسله‌والو د پاکستان د ملاتړ قضیه مطرح ده؛ خو که چېرې د واشنګټن او اسلام‌آباد ترمنځ واټن نور هم زیات شي، ښايي د پاکستان له‌خوا د افغان حکومت د وسله‌والو مخالفینو ملاتړ نور هم زیات شي او په پاکستان کې پټ او یا ښکاره امتیازات هم ورکړل شي، هغه چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې په څرګند ډول نشته دي.

**دویم**؛ پر امریکا د ترانزیټي لارې بندول به هغه لویه ننګونه وي، چې امریکا به ورسره مخ شي. دا که امریکا بدیله عملي لاره ومومي، نو تر ډېره شونې ده، چې پر پاکستان خپل فشارونه نور هم زیات کړي. دې چارې ته باید په دې تناظر کې وکتل شي، چې امریکا له ایران سره خرابې اړیکې لري، د روسیې له لارې هم ناممکنه ده، د ځمکې له لارې د ترکمنستان، جورجیا او اروپا لاره ده. دغه راز د هوا له لارې د منځنۍ اسیا او یا هم هند له لارې افغانستان ته د اکمالاتو رسول دي؛ خو دا هم تر ډېره عملي نه برېښي.

# راتلونکی کنفرانس: د افغانستان او چين دوه‌اړخيزې اړيکې

ټاکل شوې راتلونکې اوونۍ «د افغانستان او چين دوه‌اړخيزې اړيکې» تر عنوان لاندې ځېړنيز کنفرانس په کابل کې جوړ شي.

په دغه کنفرانس کې به، چې د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز (CSRS) له‌خوا جوړېږي، د دواړو هېوادونو پر دوه‌اړخيزو اړيکو او د سيمې په جيوپوليټيکو بدلونو کې د چين پر رول خبرې وشي.

په دغه کنفرانس کې به همدا راز د دغه مرکز له‌خوا د «افغانستان او چين؛ دوه‌اړخيزې اړيکې ۱۹۵۵ - ۲۰۱۵» تر عنوان لاندې چاپ شوي څېړنيز کتاب مخکتنه هم وشي. په دغه کتاب کې د دواړو هېوادونو د دوه‌اړخيزو اړيکو د تاريخي شاليد ترڅنګ، په تېره يوه‌نيمه لسيزه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ سياسي او اقتصادي اړيکو ته کتنه شوې ده.

د يادونې وړ ده، چې دا څېړنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو په تړاو مهمې موندنې او وړانديزونه هم لري.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com  csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امين، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (93+) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (93+) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.